# پرمختیا

اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۷۸ مه گڼه ● پنجشنبه ● د وری ۲۲مه ● ۱۳۹۸




۱۱

# په جوزجان ولایت کې به سږ کال د څه کم ۳۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۳۸ پرمختیایي پروژې پلي شي

## د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت او د سیمه ییزو ارگانونو خپلواکه اداري تر منځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۳

## په بغلان کې د ۳۵،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د درې پلونو جوړولو چارې پیل شوې

۵

# په بغلان کې د ۱۹.۹ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۳ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې



۱۳۹۸/وري/۱۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د بغلان ولایت د مرکزي بغلان په ولسوالۍ کې د ۱۹،۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱۳ پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

په دې پروژو کې ۵۵ د څښاک د اوبو نیمه ژورې څاګانې، د څښاک اوبو رسولو شبکې، ۱۶۹۵ متره اوږد کانال او ٤٦٥ متره اوږد محافظوي دیوال جوړول شامل دي، چې ۲۳۱۲ کورنۍ به ترې ګټه اخلي.

د یادونې وړ ده، چې د دې پروژو په کاري بهیر کې د سیمې خلکو ته ۸۸۵۸ کاري ورځې هم رامنځته شوې.

# په پکیتکا کې د ۵،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو ښوونځي د ودانۍ جوړولو چارې پیل شوې



۱۳۹۸/وري/۱۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د اقرا برنامې په چوکاټ کې د پکتیکا ولایت په سروبي ولسوالۍ کې د ۵،٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو ښوونځیو د ودانۍ د جوړولو کار پیل شو.

د یاد ښوونځي ودانۍ په یو جریبه ځمکه کې جوړیږي، چې اته درسي خونې، یوه اداري خونه، تشناب او د څښلو اوبو یوه څاه لري، چې ۳۰۰ زده کوونکو ته به د درس لوستلو ښه چاپیرل برابر کړي.

# په جوزجان ولایت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام رسماً پیل شو



۱۳۹۸ – وري – ۲۰

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام په جوزجان ولایت کې رسماً پر فعالیت پیل وکړ. په هغه غونډه کې چې د جوزجان ولایت مقام د غونډو په تالار کې په همدې موخه جوړه شوې وه په کې د ولایت مقام مرستیال والي قادر مالیه، د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینیر محمد یوسف سعید، د جوزجان ولایت د جنډر رییسې زویا زلال او د ولایتي شورا غړي شېرمحمد نور وکیل هم ګډون درلود.

د بلخ ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رییس انجینیر محمد یوسف د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د اهدافو د تشریح تر څنګ د غونډې ګډونوالو ته په خپلو خبرو کې وویل: «مېرمنې په دې پروګرام کې په ګډون سره کولای شي، چې په اسانۍ سره د ځان بساینې او کورني اقتصاد په پیاوړي کولو کې مهم نقش ولوبوي.»

د یادولو وړ ده، چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام په جوزجان ولایت کې دوه ولسوالۍ (فیض اباد او شبرغان) تر خپل پوښښ لاندې راولي، چې د پنځه کلونو په ترڅ کې به د پور او سپما د ۱۲۱ اتحادیو له طریقه ورسره ۷۸ مېلیونه افغانۍ بلاعوضه مرسته هم ترسره شي، چې ۹۶۸۰ کلیوالي مېرمنو ته به په مستیقم ډول بوختیاوې رامنځته کړي.

# په بغلان کې د ۳۵،۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د دري پلونو جوړولو چارې پیل شوې



۱۳۹۸/وري/۱۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو ملي پروګرام له لوري د بغلان ولایت په ده صلاح او پلحصار ولسوالیو کې د ۳۵،۵ میلیونه افغانیو په ارښت د درو پلونو جوړولو چارې پیل شوې.

د دې پلونو جوړولو په کاري بهیر کې د سیمې خلکو ته ۱۳۵۰۰ کاري ورځې رامنځته کېږي او د اندراب درې ولسوالۍ( بنو، ده صلاح او پلحصار) به په مستقیم ډول او د خوست، فرنګ اوګذرګاه نور ولسوالۍ به په غیر مستقیم ډول له یو بل سره ونښلوي.

# په کندوز کې د ٦،١ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو ښوونځي د ودانیو جوړولو کار پیل شو



۱۳۹۸/وري/۱۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د اقرا برنامې په چوکاټ کې د کندوز ولایت د علي اباد ولسوالۍ د چیپ بالا په کلي کې د ٦،١ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو لومړني ښوونځي د ودانۍ جوړولو کار پیل شو. یاد ښوونځي به د انجونو لپاره په څلور میاشتو کې جوړ شي، چې اته درسي خونې، ٥ عصري تشنابونه او د څښاک اوبو یوه څاه لري.

د دې ښوونځي د ودانۍ جوړولو په کاري بهیر ۳۸۳٤ کسانو ته کاري فرصتونه برابریږي.

# په پروان کې د ۲ میلیونه او ۷ سوه زرو افغانیو په لګښت د ۲۰۰ فرعي پروژو د جوړولو کار پیل شو



**۱۳۹۸/ وري/ ۲۱**

**د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۲میلیونه او ۷ سوه زروافغانیو په لګښت د ۲۰۰ فرعي پروژو د جوړولو کار په نمونه یي توګه د پروان ولایت د سیاه ګرد ولسوالۍ د بالاغیل د کلي په پراختیايي شورا کې د بنسټ ډبرې د ایښودلو په ترڅ کې پرانیستل شو. په دغو پروژو کې د څښاک پاکو اوبو، د شاه ګانو کیندل، د اوبو لګولو کانالونه، محافظوي او استنادي دیوالونه، پل او سړک شامل دي چې د نوموړو پروژو د کار په بهیر کې به ماهرو او غیر ماهرو کارګرو ته ۷۰۰۰ کاري ورځې رامینځته شي او د بشپړیدو وروسته به ۱۵ زره کورنۍ په دوامداره توګه ترینه ګټه پورته کړي.**

# په کندهار کې د څه کم پنځه میلیونه افغانیو په لګښت د څښاک اوبو رسولو یوه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



۱۳۹۸/۱/۲۲

کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو ملي پروګرام لخوا د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالۍ په چهاردیوال کلي کې د څښاک د اوبو یوه سولري شبکه چې میتر سیستم هم لري ۴۸۹۲۲۸۶ افغانیو په لګښت جوړه شو ه.

د اوبو رسولو یاده شبکه به ۳۴۰ کورنیو ته دڅښاک اوبه برابروي، چې په کاري بهیر کې ۱۸۸ کاري ورځې هم د سیمو خلکو ته برابرې شوې.

# د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېټیوت د «د کلیو په پراختیا کې د هندوستان تجربې» تر عنوان لاندې خپل دوه‌دېرشم علمي سیمینار د دغه ریاست په تالار کې تر سره کړ



د دغه پروګرام ویناوال د هندوستان د کلیو د پراختیا انستېټیوت دوه تنه پروفیسوران، ډاکتر. آر. موروګېسن او ډاکټر. آر. رمېش وو. یاد استادان په خپلو خبرو کې، په هند کې د کلیو د پراختیا د بهیر په مرحلو و غږېدل او خپل معلومات او تجربې یې د سیمینار له ګډونوالو سره شریکې کړې او همدارنګه په لاندې کلیدي موضوعاتو یې بحث وکړ:

- په هند کې د کلیو په پراختیا کې د هڅو برجسته کول؛
- د کرنې انقلاب؛
- په هند کې صنعتي انقلاب او د کلیو بدلون؛

- دندې او د کاري فرصتونو رامنځته کول؛
- د کار د خوندیتوب پروګرام او قانون
- د کلیو د معیشیت ملي ماموریت؛

همدارنګه عبدالمنیر وکیلي د افغانستان د کلیو د پراختیا انستېټیوت سرپرست، له نوموړو استادانو او د هند د کلیو د پراختیا انستېټیوت له هر اړخیزو همکاریو مننه وکړه او د دغو پروګرامونو پر بیا جوړولو یې ټینګار وکړ.
دا په داسې حال کې ده چې د کلیو د پراختیا انستېټیوت موخه د علمي پروګرامونو جوړول، د پوهې د کچې لوړول، او د کلیو د پراختیا په سکتور کې د معلوماتو او تجربو شریکول دي. په دغه سیمینار کې د وزارت د ریاستونو او برنامو شاوخوا ۱۰۰ تنو مدیرانو او کارکوونکو ګډون کړی و او پروګرام د پوښتنو، ځوابونو او د افغانستان د کلیو د پراختیا په موخه د حلارو په وړاندیز سره پای ته ورسېد.



# په جوزجان ولایت کې به سږ کال د څه کم ۳۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۳۸ پرمختیایي پروژې پلي شي



۱۳۹۷/وري/۱۷

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي نن په خپل کاري دفتر کې د جوزجان ولایت د قومي مشرانو او ځوانانو سره د یاد ولایت د ستونزو د اوریده په موخه ولیدل.

د لیدنې په پیل کې د جوزجان ولایت قومي مشرانو د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د پلي شویو پروژو څخه خوښي څرګنده کړه، چې د کلیوالو

په ژوند یې جوت اغیز کړي او ورپسې د خپلې سیمې ستونزې او غوښتنې د کلیو بیارغونې او پراختیا له وزیر سره شریکې کړې، چې د ځښاک اوبه، د سربندونو جوړول، د ښوونځیو د ودانیو نشتون او د ترانسپورتي لارو جوړول یې مهمې وبللې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر دوي ته وویل،» چې سږ کال به په جوزجان ولایت کې د څه کم ۳۰۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۳۸ پرمختیایي پروژې په بېلابېلو سکتورونو کې پلي شي او د دې ترڅنګ به امکاناتو او د وزارت کاري ساحې ته په پام ستاسې نورو ستونزو ته هم د حللارې پیدا کړو.»

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، چې د جوزجان په ۱۲۱ کلیو کې به د مېرمنو د کورنې اقتصاد پیاوړتیا پروګرام پیل شي، چې څه کم لس زره خلک به تر خپل پوښښ لاندې راولي، د دوی لاسي صنایع به پیاوړي کړي او په کور دننه به ورته کاري فرصتونه ایجاد کړي.



# د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداري تر منځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو



۱۳۹۸/۱/۲۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د( لیتاکا-۲) پروګرام او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداري تر منځ د همکاریو تفاهم نامه چې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ملي او اداري مرستیال معراج الدین شمس او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداري د پالیسۍ او مسلکي معین ترمنځ لاسلیک شوه، سیمه ییزو چارواکي وهڅوي، چې د افغان-تاجیک په پولیو کې د ښه ژوند د ودې پروژه (لیتاکا-۲) د تطبیق په ساحاتو کې همکاري، او اسانتیاوې برابرې کړي.

د دې هوکړه له مخې به د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره د اړونده ښاروالیو په تجارتي ساحو کې د لسو کالونو لپاره د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت "زموږ کلي  زموږ ویاړ" برنامې ته ځمکه برابره کړي، چې د اقتصادي فعالیتونو ودانې جوړې شي.